دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ؛

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

هر څوک چې یو نفس د بل نفس له بدل څخه پرته یا یې له فساده په ځمکه کې ووژني نو ګواکې ټول خلک یې وژلي دي او هر چا چې دغه یو نفس ژوندی کړي نو ګواکې ټول خلک یې ژوندي کړي دي.

(المائدة: ۳۲)

درس حدیث

از ابو هریره (رضی الله عنه) روایت است که رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمود: ((سوگند به ذاتی که جانم در دست اوست، کسی از شما نمی تواند مؤمن باشد، تا زمانی که من (پیامبر (صلی الله علیه وسلم)) نزد او از پدر و فرزندش محبوب تر نباشم.))

(صحیح البخاري)

شهادت شپږم کال، ۱۸ مه ګڼه، پرله پسې ۲۲۲ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۳ هـ ل د زمرې ۱۴ مه د ۱۴۳۵ هـ ق د شوال المکرم ۸ مه د ۲۰۱۴ م د آګست ۵ مه

نور:

از نظر کمیسیون انتخابات کار شیوه ابطال آرا و چک لیست نهایی شده است

این درحالی است که سخنگوی تیم اصلاحات وهمگرایی درگفتگو با خبرگزاری بخدی تاکید کرده بود برخی از خواست های این تیم در خصوص ابطال آرا از سوی سازمان ملل پذیرفته شده اما کارشیوه تا کنون نهایی نشده است.

کابل، رسانه ها:
آقای نور در نشست خبری ظهر دوشنبه در کابل گفت که با پیوستن تیم اصلاحات و همگرایی به روند بازرسی آرا این روند به گونه عادی آغاز شده و مطابق به چک لیست و کارشیوه دست داشته به پیش می رود.
نور گفت، معیار هایی که در کارشیوه ابطال آرا گنجانیده شده مطابق با قانون نافذه کشور و قانون انتخابات است که اخیرا نهایی شده است.
این در حالی است که سخنگوی ستاد داکتر عبدالله عبدالله در گفتگو با خبرگزاری بخدی تاکید کرده بود برخی از خواست های این تیم در خصوص ابطال آرا از سوی سازمان ملل پذیرفته شده اما کارشیوه تا کنون نهایی نشده است.
مجیب الرحمن رحیمی، سخنگوی این ستاد گفته که مذاکرات جریان دارد و در هفته پیشرو کارشیوه نهایی خواهد شد.
تیم انتخاباتی اصلاحات و همگرایی پنج ماده برای ابطال آرا به سازمان ملل پیشنهاد کرده که به باور این تیم، در کار شیوه ابطال آرا از این پنج ماده نیز استفاده شود....

(ص، ۴)

مستغني:

د بهرنیو چارو وزارت په کابل کې د پاکستان سفیر احضار کړ

کابل، رسنۍ:
یوه ورځ وروسته له هغې چې د افغانستان د ملي امنیت شورا د حکومت د وسله والو مخالفینو په لیکو کې د پاکستاني سلاکارانو د شمیر د زیاتېدو په اړه بحث وکړ؛ د بهرنیو چارو وزارت په کابل کې د پاکستان سفیر احضار کړ.
د دغه وزارت ویاند احمد شکیب مستغني د دوشنبې په ورځ خبریالانو ته وویل؛ چې دوی به په درېیو بېلابېلو برخو کې د پاکستاني خواکونو د سرغړونو په اړه خپل اعتراض لیک ابرار حسین ته وسپاري.
"له افغان حکومت سره لومړني شواهد دا ښايي چې؛ د پاکستان حکومت د تروریزم سره د مبارزې لپاره په خپلو کړو ژمنو عمل نه دی کړی؛ بلکه په افغانستان کې د تروریستانو...

(۴ مخ)

زندگینامهٔ استاد محمد قیس «خادم»

ستاره تابناکی در آسمان نهضت بزرگ اسلامی کشور

دوکتور محمد انور



صفحه سوم

ایندیپندنت

حمله به غزه به ناکامی تل آویو و تقویت جایگاه حماس انجامید

روزنامه «ایندیپندنت» ضمن اعلام اینکه بعید به نظر می‌رسد تل آویو به هرگونه موفقیت نظامی در جنگ کنونی دست یابد افزود که این جنگ باعث تقویت موضع مقاومت و زنده شدن بین‌المللی مسئله فلسطین شد.
ایندیپندنت: حمله به غزه به ناکامی تل آویو و تقویت جایگاه حماس انجامید به نقل از پایگاه خبری «المیادین»، روزنامه «ایندیپندنت» در پرداختی به تهاجم اخیر به غزه نوشت که نتایج این جنگ با حملات پیشین رژیم صهیونیستی به غزه...

(ص، ۴)

فلسطین:

دقایقی پس از آغاز آتش بس، در یک حمله اسرائیل در غزه ۳۰ تن کشته و زخمی شدند

فلسطین، رسانه ها:
مقامات صحی در فلسطین می گویند، دقایقی پس از آغاز آتش بس در برخی نقاط غزه، در نتیجه یک حمله هوایی اسرائیل بر یک کمپ مهاجرین در شهر غزه سی تن کشته و زخمی شدند.
پیش از این رویداد در یک حمله هوایی جداگانه، یک قوماندان نظامی دانیل منصور عضو شبکه جهاد اسلامی که یکی از متحدین نزدیک...

(ص، ۴)

برتانیه وایي چې سرتیري به یې بیا افغانستان ته ستانه شي

ډېلي ټېلګراف:
د برتانیې لوی درستیز جنرال سر پیټر وال له ډېلي ټېلګراف سره په مرکه کې ویلي، داوه دی چې افغان وسله وال خواکونه به د نړیوالو خواکونو تر وتلو وروسته د هېواد امنیت وساتي؛ خو که چېرې طالبان ...

(۴ مخ)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

حاکمیت هنوز هم در پی رخنه در روند شمارش و تفتیش آرا

رئیس جمهور بدون شک در رأس قوای ثلاثه و تمام ادارات مستقل قرار دارد، کمیسیون مستقل انتخابات و کمیسیون سمع شکایات دو نهاد بسیار محترم ملی بحساب میروند که وظیفهٔ بسیار خطیر ملی را بر دوش دارند. البته حساب افراد و اینکه تا چه حد میتوانند با استقلالیتی که آن ادارات دارند کار کنند و یا هم نتوانند، جداست؛ ولی این ادارات بحیث ادارات ملی قابل احترام اند، گرچه این ادارات در سالیان گذشته تا حدی اعتبار خود را از دست داده و علت هم آن بود با آن استقلالیتی که باید کار میکردند، یا نکردند و یا نتوانستند؛ ولی هم همین ادارات و هم ملت سخت نیازمند آن است تا این دو اداره استقلالیتی را که قانون به آنها داده بدست آورد. ما باور داریم اگر این ادارات با استقلالیتی که باید داشته باشند عمل میکردند تقلبی که در انتخابات امسال (۱۳۹۳) صورت گرفت، هرگز صورت نمیگرفت و پروسهٔ انتخابات آنقدر بطول نمی انجامید که ملت افغانستان را مانده که جامعهٔ جهانی هم با ما به نحوی در عذاب است.

این تقلب سازمان یافته در عقب خود اهداف خاص خود را دارد. اکنون که اینک تمام آرا بار دیگر شمارش و تفتیش میشود، هنوز هم حلقهٔ معین و بلکه شخص معینی میخواهد این پروسه را هم به نحوی به بنبست بکشاند و زمینه را برای آن مهیا سازد که پروسهٔ موجود انتخابات کالعدم قرار گیرد و زمینه برای دوام اقتدار حاکم وقت را مهیا سازد؛ ولی این مسأله قابل درک است. ما بیشتر مسؤولیت دو نامزد ریاست جمهوری میدانیم که متوجه این نزاکتها و این مهندسیها باشند و نگذارند که اینچنین یک برنامه جامهٔ عمل بپوشد، چه در آن صورت همین دو نامزد مسؤول وضعی که درنظر است خواهند بود.

یکی از مزایای جمهوریت همین است که بعد از یک موعد مشخص تغییراتی بوجود آید و این تغییرات زمانی بوقوع پیوسته میتواند، که افراد تعویض شوند. از سال ۲۰۰۱ تا ۲۰۱۴ اینکه کم و بیش ۱۳ سال سپری شد، اگر رئیس جمهور موجود هر گونه توانمندی و ابتکار عمل بخاطر خدمت بجامعه میداشت باید آنرا از خود تبارز میداد و اگر گامی هم درین راستا برداشته باشد چشم تاریخ کور نیست، حتماً در آن مورد قضاوت خواهد کرد؛ ولی اکنون جداً احساس میشود که دیگر باید ادارهٔ موجود جای خود را به اداره جدید رها کند، باید سیاستهای موجود جای خود را به سیاستهای موجود بگذارد. سیزده سال شد که مردم صلح میخواهند؛ ولی صلح بوجود نیامد، بخاطریکه ارادهٔ سیاسی بخاطر آوردن صلح وجود ندارد. سیزده سال شد که در کشور جنگ جریان دارد؛ ولی از سوی دولت «دوست» و «دشمن» برای ملت تعریف نشد. سیزده سال شد که مردم از فساد اداری بستوه آمده اند و فغان سر میدهند؛ ولی فساد اداری با گذشت هر روز چاقتر میشود. در کشت، تولید و ترافیک تریاک با گذشت هر سال افزایش بعمل میآید، با گذشت هر روز از حاکمیت قانون و حکومتداری فاصله میگیرند. ما باور داریم که اگر حاکمیت وقت کوچکترین منفذی برای ادامهٔ قدرت میداشت از آن راه وارد میشد؛ ولی اکنون آنچه در اختیار دارد توسل به تقلب و استفاده از آخرین امکانات قدرت است، اگر رئیس جمهور امکان بیابد به انتخابات بعمل آمده هم پشت پا خواهد زد و هر دو نامزد ریاست جمهوری را کنار خواهد گذاشت با آنکه همو بود که تیم تحول و تداوم را بسوی پیروزی کشانید؛ ولی اینکه تقلب (جعل و تزویر) افشا شد عجالتاً به آرمان خود نرسید دیده شود بعد ازین چه توطئه دیگر بکار گرفته شود.

جفایی که با آرای پاک ملت صورت گرفت واقعاً جای تأسف دارد، این جفا انتخابات را به مسخره کشانید، دیدیم که یک فرد برای دوام اقتدار به هر سو دست انداخت و به هر وسیلهٔ غیرقانونی توسل جست، در حالی که ملت دیگر بیدار شده و زمانه های خواب غفلت سپری شده است.

سناریویی که در عقب پناه دادن به ترجمانان میتواند در حال تکوین باشد

احسان الله بلال

بعد از کنفرانس بن (۲۰۰۱) که دولت جدید تشکیل گردید و به اصطلاح جامعهٔ جهانی هم به افغانستان آمد، اکثریت مردم چنان پنداشتند که:

۱- امنیت سرتاسری در افغانستان تأمین خواهد شد.

۲- دستهای همسایگان مداخله گر از افغانستان قطع خواهد شد.

۳- حاکمیت قانون به کشور برخواهد گشت.

۴- سرمایه داران داخلی و خارجی در کشور سرمایه گذاری خواهند کرد.

۵- زمینه های کار ایجاد خواهد شد.

۶- زمینهٔ برگشت آبرومندانهٔ مهاجرین افغان بخصوص از کشورهای همسایه مهیا خواهد گردید و مانند این اقدامات دیگری صورت خواهد گرفت. از سال ۲۰۰۱ تا ۲۰۰۳ که امنیت روز به روز بهتر شده میرفت و حتی مردم تا دور دست ترین نقاط کشور میتوانستند سفر بکنند، امیدها روز به روز افزایش مییافت، خیلی از افغانهای تحصیلکرده آنانی که یک احساس داشتند و با کشور علاقه‌مند بودند به نیت خدمت بوطن برگشتند؛ ولی بعد از ۲۰۰۳ که آهسته آهسته وضع کشور از نگاه امنیتی بوخامت گذاشت و این وضعیت را جامعهٔ به اصطلاح بین المللی از روی یک برنامه خراب کردند، آنانی که سلاح مخالفت در برابر دولت جدید را بر زمین گذاشته بودند دوباره مجبور شدند سلاح برداشتند و این وضعیت را همسایگان هم که درین ماجرا دست داشتند به فال نیک گرفتند. هر قدر وضعیت رو به وخامت میگذاشت مردم ما آهسته آهسته نومید میشدند و پرده از روی این راز به رخ شان برداشته میشد که این مهمانان ناخوانده بخاطر تحقق چه اهداف مرموزی به افغانستان آمده اند؛ در منطقه چه اهدافی دارند و در تمام براعظم آسیا چه اهدافی دارند. این همه اهداف را هنوز سالها قبل یکی از شعرا در یک شعر پشتو چنین تمثیل میکند:

که د روس ښایسته وعدې دي
د پرنګ ښـــایسته دوکې دي
دې زمـا ښــــکلې ایشـــیا ته
دا بیخـــــوده امــــــریکه ده

اهدافی را که جامعهٔ جهانی نه، بلکه جامعهٔ غربی در براعظم آسیا برای خود تعیین کرده بود، نزد اهل نظر و بینش سیاسی پوشیده نبود. شکست مفتضحانهٔ روسها بدست مجاهدین

قهرمان افغانستان گرچه یک فال نیک بود، نه تنها برای ملت افغان بلکه برای تمام امت مسلمه و تمام جامعهٔ بشری؛ ولی آنچنان که ادویه در پهلوی منفعت، عوارض جانبی خود را هم دارد، شکست روسها هم این عارضه را با خود داشت؛ زیرا با شکست روسها جهان یک قطبی شد، بلاک شرقی از هم پاشید و بلاک غربی قوت بیشتر یافت، از همین جهت غرب از شمال افریقا گرفته تا شرق میانه و افغانستان با دست باز عمل کرد و اکنون در پی تعقیب اهداف خود در آسیای مرکزی، روسیه، چین و جنوب آسیاست.

با آمدن غرب و به اصطلاح تمدن غرب به کشور ما مظاهر تمدن غرب مانند جامعهٔ مدنی و کمپیوتر و آشنایی با زبان انگلیسی و امثال آن رونق بیشتر یافت و بازار آن خیلی گرم گردید. دیدیم که در هر کوچهٔ شهر کابل و دیگر شهرهای افغانستان کورسهای انگلیسی باز شد و هر کسی تلاش داشت تا چند کلمه انگلیسی آموخته، در خدمت قوای خارجی قرار گیرد. یک عده جوانان ما با نیروهای خارجی بحیث ترجمان ایفای وظیفه کردند که بعد از ختم ماموریت شان بهانه آوردند که تحت تهدید قرار دارند، فلهذا باید به آنها پناهندگی داده شود. چنانچه بریتانیا این کار را کرد و اینک امریکا هم به چهار هزار جوان افغان که با امریکاییها در افغانستان بحیث ترجمان کار کرده اند پناهندگی میدهد و این مسأله از کانگرس و سنای امریکا منظور شد. این مسأله در حقیقت ادامهٔ فرار دادن مغزها از افغانستان است و امریکا میخواهد بالای این افراد سرمایه گذاری کند؛ آنها را تحت تربیت قرار دهد و باز در کدام فرصت مناسب و وقت ضرورت دوباره به افغانستان برگرداند و بنام متخصص و کارشناس استخدام نماید که در حقیقت آنها از طرف آنها وظیفه خواهند داشت. تا جایی که بنده معلومات دارم، در بین این افراد بودند کسانی که نمیخواستند به امریکا بروند و حتی زمانی که کشور را به قصد امریکا ترک میکردند هم خود شان و هم خانواده های شان اشک میرختند و بزبان حال به دوستان خود می فهماندند که آنها هرگز آمادهٔ رفتن به امریکا نیستند؛ بلکه از روی یک اجبار میروند؛ زیرا اگر انکار کنند شاید خطری آنها را تهدید کند. ببینید اگر حرف، صرف تهدید باشد، امروز حتی آنانی که بحیث یک مستخدم هم در دولت کار میکنند از سوی حلقات مخالف مسلح دولت قابل عفو نیستند و به گمان آنها واجب القتل و مباح الدم هستند، دیدیم که حتی علما در مساجد کشته شدند، سران قومی ترور شدند، افراد خبیر و آگاه آماج قرار گرفتند، حتی مردمان عادی را از موترها پایین کردند و بدون کدام تحقیق و پرس و پال به شهادت رسانیدند چنانچه حادثهٔ اخیر ولایت غور که پانزده تن از هموطنان ما قربانی بی گناهی خود شدند، از مثالهای بارز آن بشمار میرود. یعنی آنانی که با قوای خارجی هیچگونه ارتباطی ندارند. این میرساند که چه توطیهٔ خطرناکی بر علیه ملت ما ریخته شده است، فلهذا اینکه تنها ترجمانان مورد تهدید هستند درست نیست؛ بلکه این افراد برای برنامه های بعدی پذیرفته میشوند؛ ولی دولت درین رابطه مهر سکوت بر لب زده است.

عبیدالله صافي

ولسواکي د رأیو په شفافیت راځي نه په تشو شعارونو

د ټاکنو په لومړی او دویم پړاو په کمپاین کې د اصلاحاتو او همپالنې د ټیم مشر ښاغلي عبدالله عبدالله به دا خبره ډیره تکراروله چې زمونږ اصلي رقیب تقلب دی او زمونږ یواځنی غوښتنه داده چې له هر ډول تقلب او جعل نه ډډه وشي. د تحول او تداوم ټیم مشر ښاغلی اشرف غني هم په وار وار دا خبره کوله چې موږ په ټاکنو کې تقلب نه غواړو، مطلب دا چې د دواړو ټیمونو مشرانو له لومړی ورځې نه د تقلب نه کولو کلکه ژمنه کړی وه او ولس ته یې بشپړ ډاډ ورکړی و چې په ټاکنو کې به تقلب نه کېږي. پکار خو دا و چې له دومره کلکې ژمنې وروسته تقلب او درغلی نه وای شوی او ټاکنی له درغلیو پرته شفافې او رڼې ترسره شوي وای؛ خو دا چې د ټاکنو د مشروعیت د خرابولو لپاره د دویم پړاو په ټاکنو کې د کومو خودغرضو کړیو له خوا درغلیانې وشوي؛ نو ددې د مشروعیت د اعادی په خاطر دا نامکنه نه ده چې پاکې رأی له ناپاکو رأیو څخه جلا کړای شي. البته په هغه صورت کې چې د دواړو ټیمونو مشران د شفافیت په رامنځته کولو کې جدي او رښتوني وي او د زړه له کومې وغواړي چې اولس خپل حق ترلاسه کړي. له ټاکنو وړاندې د نه تقلب ژمنې کول د یو شعار بڼه درلوده خو له ټاکنو وروسته دغه شعار ته د عملي بڼې ورکولو اصلي وخت رارسیدلې. دا هغه وخت دی چې رښتوني او درواغژن پکې معلومېږي او اولس ته هغه څوک امتحان کېږي چې پرون د اولس د حقوقو ناری سورې پورته کولې او ویل یې چې رأیې د اولس امانت دی.

د اصلاحاتو او همپالنې ټیم د خپلو ژمنو له مخې د درغلیو د مخنیوې او پاکو رایو له ناپاکو رأیو څخه د جلا کولو غږ پورته کړ او اولس ته یې ډاډ ورکړ چې موږ ستاسې د اصلي رأیو د صیانت په خاطر هر ډول ځیرنې او مرستو ته هم تیار یو. خو د شفافیت د رامنځته کولو لپاره دهغو مواردو او شرایطو منل اړین دي چې په وسیله یې شفافیت یقیني کیدای شي او په دې اړه چې څومره زیات کار وشي همغومره د شفافیت امکانات هم زیاتېږي؛ نو ځکه د اصلاحاتو او همپالنې ټیم مشران د هغو ټولو وړاندې شویو مواردو او مشورو هرکلی کوي چې د شفافیت لپاره مؤثر او ممد واقع کېږي، مګر د تحول او تداوم ټیم مشران د داسې مواردو او مشورو له منلو څخه ډډه کوي او په یو محدوده دائره کې د رأیو د بیا شمېرنې پر پروسه ټینګار کوي، له همدې ځایه معلومېږي چې هغوی نه وړاندې د شفافو ټاکنو په ترسره کولو کې رښتینې وو او نه هم اوس د زړه له تل نه غواړي چې پاکې رأی له ناپاکو څخه جلا او ولس د خپلې خوښې حکومت جوړ کړي. که چېرته داسې نه وي؛ ...

پاتې ۳ مخ

نصرالله

ملت دې د جعلي سياستوالو ارادې شنډې کړي

کله چې سياست د عبادت په نيت وشي؛ نو هغه د الله پر نزد مقبول او ښې لاسته راوړنې لري، نه يواځې سياست بلکې هر هغه کړنه چې د انسانيت د خير ښيګڼې او فلاح لپاره ترسره شي په هر قدم کې ورته ثواب ورکول کېږي او الله جل جلاله خپله مرسته ورسره کوي، مګر کوم کارونه چې د انسانيت د ضرر او تباهۍ لپاره کېږي که هغو ته څومره هم د اسلام او د انسانيت د ګټې نوم ورکړی شي هغه له تاوان، زحمت، تکليف او پريشانۍ پرته بل هيڅ ګټه نه ورکوي، او ګام په ګام ستونزی زېږوي. لوی الله د هيچا نيکي او ښې کړنې نه ضايع کوي؛ بلکې څو برابره اجر او ثواب ورته ورکوي، دا دنيا يې هم ښايسته کوي او هغه دنيا يې هم، په دې دنيا کې هم سرلوړي ورته به برخه کوي او هغې دنيا کې هم د جنتونو ټول نعمتونه ورته ورکوي.

سياست د اسلام په سپيڅلی دين کې ځانګړی ځای لري ځکه چې د سياست مطلب او مفهوم دادی چې انسانيت په سمه او نيغه لاره روان کړې شي او له ټولو هغو خطرناکو لارو څخه وساتل شي چې له ستونزو سره يې مخامخ کوي: نو ځکه په ډېر قوت سره ويلای شو چې سياست په انساني ټولنه کې تر ټولو مهم او کليدي رول لري. چېرته چې سياست واقعاً د عبادت په جذبه ترسره شي او هر سياسي شخص په سلو کې سل د خپل اولس خيرښيګڼې او ګټې په نظر کې ونيسي هلته مسايل د ډېرېدو پرځای کمېږي، ستونزي يو يو له منځه ځي او هر لوری آسانتياوی خپلې وزرې غړوي. له بده مرغه په افغانستان کې سياست خپل مسير بدل کړی، ډېری سياستوال ددې پرځای چې سياست د اولس د خيرښېګنې او سمون لپاره پرمخ يوسي د خپلو شخصي ګټو لپاره پرمـــخ وړي، ددې پرځای چې په اولس کې همغږي، اتفـــاق او شفافيت روحيه تقويه کړي نور هم پيچلی کوي. په اولس کې ستونزي پيدا کوي، د يو بل پرخــلاف د بدګمانی، حسد او بغض جرړې مضبوطوي چې د اولس له دغه ضعف نه د ګټې په اوچتولو سره خپلې ناولې موخې ته ورسېږي.

ډېر د تأسف ځای ده چې زموږ په ټولنه کې ډېری داسې څېرې شتون لري چې هغوی اصلاً د الله په وړاندې عبوديت او عبادت ته قانع نه دي، کله چې يو څوک عبوديت ته اهميت نه ورکوي هغه بيا سياست هم د عبادت په روحيه نشي کولای. سياست او عبادت دواړه پخپلو کې دوه نه بېلېدونکې برخې دي. په سياست کې د عبادت روحيه د بوټو د جرړې مثال لري، کله چې جرړې موجود نه وي؛ نو د بوټي زرغونېدل هم ناشوني وي. د عبادت اساسي معنا ده د خپل معبود په وړاندې تر آخري درجې پورې عاجزی کول او دهغه په وړاندې خپل ځان په بشپړ ډول بې وسه او کمزوری ګڼل.

ابن منظور افريقی رحمة الله عليه ليکي: العبادة الطاعة... د عبادت معنا ده د الله په وړاندې د اطاعت سرښکته کول؛ نو ځکه موږ ويلای شو چې کوم سياست د عبادت په جذبه او نيت وشي په هغه کې له خيرښېګڼې، برکت او اسانتياو پرته بل هيڅ شی ورسره نشي يوځای کيدلای او ټولنه خامخا د نيکمرغۍ په لور روانېږي. د ژوند ټولې چارې په سمه توګه پرمخ ځي او ولس په آرامه فضا کې خپل ژوند تيروي، ټول کارونه د قانون او اصولو په چوکاټ کې ترسره کېږي او هر چاته له څه تکليف، رشوت او واسطې پرته خپل حقوق ورکول کېږي، له همدې ځايه معلومېږي چې په افغانستان کې سياست خپل اصل مفهوم او مقصد له لاسه ورکړی. او ډيری سياستوال سياست د عبادت او اطاعت تر جذبې لاندې نه؛ بلکې د خلکو د تير ويستلو او دهغوی په سترګو کې د خاورې د شيندلو لپاره ترسره کوي، د سياست تر شعار لاندې د اولس له سرنوشت سره ناروا لوبې کوي او دهغوی د خدمت پرځای پر هغوی د باداري د چلولو لپاره هلې ځلې کوي، که داسې نه دي نو بيا دومره ستونزی ولې پيدا شوي او ټاکنې ولې د راحت پر ځای عذاب او درد سر ګرځيدلي دي؟

د اسلام په سپيڅلی دين کې د يو هېواد د زعيم او مشرتابه د ټاکلو حق په مطلق ډول اولس ته ورکول شوی او همغوی ددې حق لري چې د خپلو آراو د استعمال له لارې د خپلې خوښې مشرتابه وټاکي؛ مګر دا چې په ټاکنو کې له رشوت، زور، چل، فريب او درغلۍ نه کار اخيستل کېږي دا نو په همدې حقيقت ګواهي ورکوي چې داسې سياسي مشران، سياست د عبادت او د اولس د خدمت په خاطر نه؛ بلکې د خپلې باداری د ناوړو موخو د ترلاسه کولو په مقصد کوي؛ که نه نو په ټاکنو کې به دغه له زغم نه وتلې ستونزې نه وې پيدا شوې.

د شفافو ټاکنو لپاره به ډير قوي ترتيبات نيول شوي وو او هيچاته به دا زمينه نه وه برابره شوی چې درغلي وکړي او ټاکنې تر سوال لاندې راولي، که بيا هم د ټولو ترتيباتو باوجود چيرته د درغلۍ پيښې مخې ته راغلی وای دهغوی د شفافيت لپاره به په يو اتفاق له څه چون او چرا پرته عملي ګامونه اوچت شوي وای نه دا چې دهغوی د پټولو په خاطر له غلط منطق او بې ځايه پافشاري څخه کار اخستل شوی وای، لکه څنګه چې د تحول او تداوم ټيم د رأيو د شفافيت په وړاندې په پرلپسې ډول خنډونه اچوي او دهغو مؤثرو مواردو له منلو څخه په کلکه ډډه کوي چې پاکې رأيې له ناپاکو رأيو څخه په جلا کولو کې ممد واقع کېږي؛ نو ځکه د سياست په ډګر کې د افغانستان هر وګړی د يو متعهد مؤمن په توګه مسؤوليت لري چې پخپل هېواد او ټولنه کې د صحيح اسلامي سياست د ښستيز کېدو په مقصد خپل ټول قوت او صلاحيتونه پکار واچوي، هر سياسي مشر او ګوند يې تر دقيقې څارنې لاندې ونيسي، هره کړنه او وينا يې د انصاف په تله کې وتلي چې ايا هغه سياست د عبادت، اطاعت او خدمت په روحيه کوي او که د خپلې باداری په روحيه؟ که چيرته اولس پخپل هېواد کې يو سالم او صحيح سياست ته وده ورکول وغواړي؛ نو له څه شک پرته د جعلي او خودغرضو سياسي مشرانو د راټوکيدو ټولې شونتياوې ناشوني کيدای شي ځکه چې صحيح سياست او غلط سياست پخپلو کې سره غوښه او چاړه دي، که اولس پخپله ټولنه کې د غلط سياست مخه بنده کړي؛ نو خودغرضو کسانو ته به کله هم د ناوړه سياست د ترسره کولو فرصت په لاس ورنشي، اوس چې د رأيو د شفافيت په اړه کومې هڅې روانې دي اولس دی پر نوماندانو د خپل جائز حق د ترلاسه کولو په مقصد د ټولو هغو شرايطو پر منلو فشار واچوي چې د رايو د شفافيت پروسه يقيني کوي او په صحيح معنا پاکې رأيې له ناپاکو رأيو څخه جلا کوي. هر هغه ټيم چې د ښه شفافيت په خاطر د وړاندې شويو مواردو په وړاندې خنډونه اچوي او نه يې مني د هغو د منلو په خاطر دی ورباندې فشار واچوي او دېته اړ کړي چې ددغو مواردو په وړاندې تسليم شي تر څو پاکې رأيې له ناپاکو رأيو څخه جلا او هغه نوماند د افغانستان مشري په غاړه واخلي چې د ملت زياتې رأيې يې ترلاسه کړي دي، که خدای مه کړه اولس په دې حساس وخت کې د خپل حـــق د ترلاسه کولو او د شفــافيت د تحقق په اړه له غفلت نه کار واخلي، نو د افغانســـتان په راتلونکو ټاکنو کې به لدينه هم زياتې درغليانې ورسره وشي او افغانان به کله هم د خپلې خوښې منتخب حکومت مخ ونه ويني. د ديموکراســـی تر نامه لاندې به د ديکتاتوري او ظـــالم حکومت په ميچـــنه کې دل کېږي؛ لهذا ښه به دا وي چې اولـــس د همت مـــلا وتړي او د خپل روا حقوق د ترلاسه کولو په موخه د ټولو هغه لارو چارو کلک مـــلاتړ وکړي چې د ټاکنې شفـــافيت يقيني او درغلي کوونکو ارمانونه خاورې ايرې کوي.

زندگينامۀ استاد محمد قيس «خادم»

ستاره تابناکی در آسمان نهضت بزرگ اسلامی کشور

دکتور عبدالبصير «انور»



استاد محمد قيس خادم در قريه بدراب ولسوالی تگاب ولايت کاپيسا در يک خانواده متدين بدنيا آمد و در آغوش همچو يک خانواده پرورش يافت، دوره ابتدائی و ثانوی را در وطن مألوفش به پايان رسانيد و از دارالمعلمين عالی پروان فارغ گرديده برای سهمگيری در پرورش سالم اولاد وطن وظيفه مقدس معلمی را درولسوالی تگاب اختيار کرد.

محترم استاد خادم با ورود به دارالمعلمين عالی پروان با نهضت بزرگ اسلامی افغانستان آشنايی حاصل نمود و از شخصيت ها و چهره های بارز صف مرصوص نهضت جوانان مسلمان گرديد، که مبارزات مسؤولانه و آگاهانۀ او در راه تنوير اذهان جوانان وطن او را مورد حسادت و دشمنی رژيم وقت قرار داد، رژيم کفر پرور وقت اين معلم بی وسيلۀ با درآمد ناچيز را به نام فعالی از جوانان مسلمان به ولايت بغلان تبديل نمود.

محترم استاد خادم برخلاف نيات شوم نظام داران به حلقه منظم تر و مخلص تر جوانان مسلمان راه يافت، در آنجا با بزرگوارانی از شهدای طراز اول نهضت مانند استاد رسول جان، داکترصاحب نواب، مولانا جمعه جان، استاد محمد، مرحوم استاد عزيز و شخصيت هايی چون استاد نور علی خان خالد، استاد اقبال يوسفی، غلام مصطفی جواد، منشی صاحب عبدالمجيد آشنا و همرزم گرديد.

خادم صاحب مرحوم از همت عالی برخوردار بود، باوجود مسافرت و دوری از خانواده و درآمد ناچيز معاش معلمی در حاليکه همه وقت فراغت او صرف پرورش روحی و اخلاقی نونهالان وطن می شد نمی پذيرفت کمک و معاشی به او داده شود يا برادران مستعدتر با او همکاری اقتصادی کنند.

در ولايت بغلان از شهرتی در ميان حلقات نهضت برخوردار گرديد که پس از هفتم ثور ۱۳۵۷ يک روز را هم در آنجا سپری نتوانست و بلافاصله با همراهی عده ای از همان برادران بزرگ و طراز اول بغلان راه مهاجرت را پيش گرفت.

استاد خادم با ورود به پشاور با توجه به اختلافات ميان اعضای نهضت در زمره حلقه ای از برادران برای رفع آن در تلاش شد. در نتيجه کوشش های همين برادران دو جانب مطرح آماده شدند رهبريت های حزب اسلامی و جمعيت اسلامی را برای توحيد صفوف از مقام شان مستعفی و تنظيم های شانرا منحل اعلان نموده و با رهبری مرحوم مولوی محمد نبی «محمدی» حرکت انقلاب اسلامی را محور وحدت همه مجاهدين اعلان نمايند.

خـادم صـاحب در حساس تـرين و خطرناکترين مقطع حکومت کمونيستی تره کی و حفيظ الله امين مسؤوليت سرپرستی فعاليت های مجاهدين را در کابل به عهده داشت.

او در ميان همه مجاهدين فعال درين عرصه با اکرام و احترام کامل يادآوری می شود.

او در زمان داشتن اين ماموريت از خانواده های متضرر و زندانيان رسيدگی می کرد، که درميان اين خانواده ها و منسوبين شان از محبوبيت خاصی برخوردار هستند.

خادم صاحب از شخصيت های طراز اولی بود که برای هر چه فشرده تر شدن و غنی تر شدن حزب اسلامی افغانستان تلاش خستگی ناپذير بخرچ داد تا هر يک روانشاد مولوی محمد يونس خالص، محترم مولوی جلال الدين حقانی، روانشاد مولوی نصرالله منصور، شهيد مولوی جميل الرحمن، مولوی نظام الدين و ساير شخصيت ها در صف حزب اسلامی باقی بمانند.

زمانی اتحاد اسلامی مجاهدين افغانستان به اثر الحاح آنعده از شخصيت های جهانی اسلام که از پراگندگی نهضت های مشابه تجارب تلخ داشتند شکل گرفت، رهبران تنظيم های جهادی با دل ناخواسته بآن پيوستند.

مرحوم استاد خادم از جمله پيشتازانی بود که خواهان دوام و بقای اين اتحاد از طريق ايجاد پيوندهای ناگسستنی فکری ميان جوانب ذيدخل بودند، خاصتاً شخصيت های مهم حزب اسلامی که شامل بخش های مختلف تشکيلاتی اتحاد بودند در محراق توجه شان قرار داشت.

محترم استاد خادم ازين رنج می برد که افرادی بنام مجاهد و عضو يک نهضت اسلامی شناخته شوند؛ ولی از اخلاق جهادی و معلومات کافی اسلامی بی بهره باشند، به همين منظور همواره در پی تربيۀ فکری و علمی و اخلاقی منسوبين نهضت اسلامی بود و ساز و برگ انسجام در تنظيم حزب اسلامی در نتيجه کوشش و تلاش او بود.

در رفع اختلافات مجاهدين و قوماندانان سخت توجه داشت که بهمينگونه عمری را در جبهات پروان، کاپيسا، کابل، ننگرهار، لغمان و کنر بسر برد.

در امر اصلاح صريح، قاطع و جدی بود، ملامت را متوجه خطايش می کرد و به مسؤولين امر آنچه را صواب می ديد بدون مجامله مشوره می داد، زمانی هم بخاطر نظرات و صراحت هايش در داخل تنظيم محروميت می کشيد.

در شرايط داغ جهاد بخاطر توجه به تعليم و تربيۀ جوانان مدرسه ضياء الجهاد را در پشاور آغاز کرد و با همه محروميت ها و محدوديت ها آنرا ادامه داد و با بهتر شدن شرايط در سراسر تگاب مکاتب، مدارس و دارالحفاظ ها را فعال نمود، تأسيس اين مراکز تعليمی و پرورش اخلاقی مردم در توجيه و اصلاح مردم منطقه رول بسزا داشت.

مرحوم استاد خادم به مشکل وظايف رسمی را در تشکيلات تنظيم می پذيرفت. او مدت مديدی را به صفت عضو شورای مرکزی حزب اسلامی و عضو هيأت عالی نظار ايفای وظيفه می نمود.

مرحوم استاد خادم به چيزی جز قايم نمودن نظام کامل و شامل اسلامی در کشور قانع نبود و درين راه عملاً مشغول کار بود. او يگانه شخصيتی بود که امکانات محدود باقيماندۀ جهاد را در راه مصالح مجاهدين منطقه خيلی ها با احتياط و عادلانه به مشورۀ بزرگان صاحب رأی منطقه به مصرف می رسانيد و همين صداقت و شفافيت را از همه انتظار داشت.

محترم استاد خادم با عالمی از آرمان های بسر نارسيده در روز شانزدهم ماه مبارک رمضان جهان فانی را وداع گفت و به رفيق اعلی پيوسته، دوستان و همراهان راهش را در تحقق آرمان هايش تنها گذاشت.

(انا لله و انا اليه راجعون)

روحش شاد باشد و پروردگار عالميان با اجر هجرت، جهاد و زندگی پرتلاشش در راه بسر رسانيدن اهداف و آرمان های جهاد، بهشت فردوس را جايگاهش گرداند. آمين

د ملي ـ اسلامي ارزښتونو په رڼا کې د حزب اسلامي افغانستان ترجمان
شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان ترجماني اونیزه

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (خلیل)

د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
۰۷۰۰۲۰۲۲۰۱

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي. یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مېنه - کابل | Email Add: shahadatnews.kabul@gmail.com

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

ډیلي بیسټ: په افغانستان کې جګړه پای ته نه ده رسېدلې

ډیلي بیسټ:
ډیلي بیسټ ورځپاڼې په یوه لیکنه کې د افغانستان امنیتي حالات څېړلي.
ورځپاڼه په پیل کې وایي، د افغانستان په هر ځای کې د مرګ نښه لیدل کېږي.
د ډیلي بیسټ له لیکنې سره سم؛ د تېرې یوې میاشتې حملو وښودله چې په افغانستان کې جګړه پای ته نه ده رسېدلې.
ورځپاڼه زیاتوي، نړیوال ځواکونه له افغانستانه وتلو ته تیاري نیسي او د دوی دا پروسه څو نومونه لري؛ لکه وراني، د انتقال بهیر، د ځواکونو د شمېر کموالي او بشپړ وتل.
ډیلي بیسټ ورځپاڼه وړاندې لیکي؛ ډېر امریکایان په افغانستان کې ژوند داسې انځوروي چې؛ یوه لېږي سیمه ده، پوځیان د ژوند په نامسم وضعیت کې تل په جګړه کې ښکېل دي.
د ډیلي بیسټ د لیکنې لیکوال وایي؛ چې حقیقت ښایي په افغانستان کې لږ شمېر بهرنیو پوځیانو ته دغسې وي؛ خو اکثره بهرني پوځیان په افغانستان کې د امریکا په شان ژوند کوي.

واشنګټن پوسټ:
واشنګټن پوسټ ورځپاڼې بیا افغان ترجمانانو ته د ویزې د ورکولو په اړه لیکنه چاپ کړې ده.
ورځپاڼه وایي چې، د امریکا مشرانو جرګې هغو افغان ترجمانانو ته، چې د امریکا له پوځ سره یې کار کړی د نورو ویزو د ورکولو پروګرام تصویب کړ.
د مشرانو جرګې د دواړو ګوندونو غړیو د جمعې په ورځ یوه طرحه تصویب کړه؛ چې پر اساس یې زرو نورو افغان ترجمانانو ته؛ چې د امریکا له پوځ سره یې کار کړی او هڅه کوي چې، امریکا ته د تګ موقع لاس ته راوړي؛ ویزه ورکول کېږي.
مشرانو جرګې په یوه خوله دا طرحه وروسته له دې تصویب کړه چې؛ تېره اوونۍ دې ته ورته طرحه د امریکا د استازو جرګې غړیو تصویب کړه.
واشنګټن پوسټ ورځپاڼه لیکي، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان کري په یوه پیغام کې وویل؛ د دې طرحې تصویب موږ ته دا امکان راکوي چې؛ هغو مستحقو کسانو ته ویزې صادرې کړو چې؛ له موږ سره یې په صداقت کار کړی دی.

ولسواکي د رأیو په شفافیت ...

(د ۲ مخ پاتې برخه)

نو بیا په کوم دلیل د یقیني شفافیت د رامنځته کېدو په خاطر د اصلاحاتو او همپالنې ټیم له خوا د وړاندې شویو مواردو له منلو څخه ډډه کوي؟! په داسې حال کې چې د همپالنې ټیم د تحول او تداوم د ټیم ټولې هغه غوښتنې چې د رأیو د شفافیت لپاره مؤثرې وې منلو ته تیار دی.

په دې کې هېڅ شک نشته چې رأیې د اولس حق دی او ددې دفاع او صیانت د سیاسي مشرانو په شمول د ټولو افغانانو مسؤولیت دی، د افغانستان د مسلمان اولس په رأیو کې تقلب شوی او له اصلي رأیو سره جعلي رأیې کارول شوي دي، د قانون او سلیم فطرت غوښتنه داده چې حق او باطل سره جلا کړای شي، حق ته حق وویل شي او باطل ته باطل.

د اصلاحاتو او همپالنې ټیم مشران پخپلو هغو ژمنو کلک ولاړ دي چې ویل یې تقلب نه مني او د اولس د رأیو به په هر حالت کې دفاع کوي، د تحول او تداوم مشران دي هم پر خپلو ژمنو ودرېږي، که چېرته واقعاً ولسواکي او د اولس رأیو ته احترام لري؛ نو دهغه دعملي کولو وخت همدا دی. له اصلاحاتو او همپالنې له ټیم سره دی یو لاس شي او د اولس د روا حقوقو په دفاع کې خپل سیاسي مسؤولیت په صحیح ډول ترسره کړي.

شعار تر هغه څه نتیجه نلري چې د حقیقت بڼه ورته نه وي ورکول شوی او د اولسواکی شعار هله نتیجه ورکوي چې د تقلبي او جعلي رأیو پرځای د اولس رأیو ته احترام وشي، که چېرته د تحول او تداوم ټیم د شعار پرځای واقعاً د ولسواکی اصل ته احترام لري؛ نو بیا د هیڅ ډول انو بهانو ته ځای نه ده پاتې، وړاندې دې شي او په ډېر اخلاص او صداقت دی د رأیو د شفافیت په پروسه کې بشپړه ونډه واخلي، تر څو د افغانانو د رأیو دفاع هم وشي او د ولسواکۍ پروسه هم په مسلسل ډول خپلې جرړې کلکې کړي چې راتلونکی لپاره افغانان د نورو له خوا له تپل شویو نامنتخبو چارواکو څخه نجات ترلاسه، او د خپلې خوښې منتخب اسلامي حکومت خاوندان شي، که چېرته د تحول او تداوم ټیم مشران د حالاتو حساسیت او شرایط په پام کې ونه نیسي او د خپل اولس د رأیو د احترام او صیانت پرځای د نورو کړیو له خوا په غوړول شوی لومه کې ونخلي؛ نو له څه شک پرته به یې خپلې پښې هم غوڅې کړې وي او د ولسواکی جنازه به یې هم پخپلو لاسو ویستلې وي، نه ښایي داسې بې سنجشه ګامونه اوچت کړی شي چې د اولس حق تر پښو لاندې شي او د غرض خاوندان خپل شوم اهداف ترلاسه کړي.

اوباما: روسیه نقش اش را در سطح جهانی ایفاء نکرده است

امریکا، رسانه ها:
بارک اوباما رییس جمهور ایالات متحده امریکا نقش روسیه را در سطح بین المللی کم اهمیت خوانده و گفته است مسکو هیچ چیزی انجام نداده است.
بارک اوباما در مصاحبه با مجله هفته وار ایکونومست چاپ انگلستان بروز شنبه در حالی این اظهارات را کرد که تنش ها در اوکراین هنوز هم ادامه دارد و روسیه به فراهم کردن اسلحه به جدایی طلبان طرفدار مسکو در شرق آنکشور متهم شده است.
بارک اوباما در مورد اینکه مسکو چی نقش را تا کنون در سطح جهانی ایفاء کرده، می گوید:
"به نظر من بسیار مهم است که آینده در نظر گرفته شود، روسیه هیچ کاری انجام نداده است. مهاجرین در جستجوی دریافت فرصت ها به مسکو نمیروند، حد اوسط عمر مردان روسی شصت سال است و نفوس این کشور رو به کاهش است."
رییس جمهور اوباما در این مصاحبه اش ولادیمیر پوتین همتای روسی اش را شدیداً مورد انتقاد قرار داده گفته است، پوتین همواره بالای منافع سیاسی کوتاه مدت تمرکز کرده است:
"به نظر من ولادیمیر پوتین نمایانگر فشار های عمیق در روسیه است که در دراز مدت برای آنکشور مضر بوده اما در کوتاه مدت در داخل کشور از لحاظ سیاسی مورد پسند ولی در خارج درد سر ساز بوده است."
رییس جمهور امریکا می گوید، غرب باید به تهدید هایکه روسیه باعث ایجاد آن در منطقه شده است پاسخ سخت بدهد.
وی افزوده است، باید مطمین شویم که تنش ها بیش از این گسترش نیابند.
بارک اوباما روابط غرب با دیمیتری میدویدف رییس جمهور پیشین روسیه را سازنده و خوب خوانده است.
همچنان بارک اوباما در مصاحبه با مجله هفته وار ایکونومست چاپ انگلستان به روابط جنجال برانگیز میان کشورش و چین اشاره کرده و گفته است که روابط را میتوان تنظیم کرد اما افزود که چین نیاز دارد تا خود را مطابق نورم های بین المللی عیار بسازد.

از نظر کمیسیون انتخابات...

ستاد داکتر عبدالله عبدالله همچنان اعلام کرده که دو ماده از این پنج ماده پذیرفته شده و گفت و گوها برای نهایی شدن کار شیوه جریان دارد.
سخنگوی کمیسیون انتخابات می گوید که روز گذشته حدود ۴۰۰ صندوق رای دهی در حضور ناظرین بین المللی و در غیاب ناظرین تیم اصلاحات و همگرایی بازرسی شده و از اعتبار لازم برخوردار است.
نور محمد نور گفت که برای سرعت بیشتر روند بازرسی، کمیسیون انتخابات در نظر دارد تا گروه های کاری را افزایش دهد و قرار است در روز های آینده در هر نوبت زمانی ۱۵۰ گروه به بازرسی ادامه دهند.
او گفت که روند انتخابات به اساس معیارهای بین المللی صورت می گیرد و هیچ گونه مشکلی ندارد که از آغاز روند تا کنون بیشتر از دو هزار صندوق بازرسی شده است.
این در حالی است که در ادامه افشاسازی صدای مقام های دولتی و مسئولان کمیسیون انتخابات از سوی تیم اصلاحات و همگرایی، روز گذشته این ستاد فایل صوتی منسوب به محمد کریم خلیلی معاون دوم ریاست جمهوری را منتشر کرد.
در این فایل صوتی که به آقای خلیلی منسوب شده گفته شده که حکومت افغانستان و جامعه جهانی با اشرف غنی احمدزی همکار است و با استفاده از هر ابزاری این تیم پیروز خواهد شد.
سخنگوی کمیسیون مستقل انتخابات در کنفرانس خبری اعلام کرد که تا کنون ۲۱ هزار و ۹۰۹ صندوق رای دهی از ۳۲ ولایت کشور به گونه سالم به دفتر مرکزی کمیسیون انتخابات منتقل شده است.
به گفته نور، این مقدار صندوق ها ۹۲.۴ درصد مجموع تمامی صندوق ها را در بر می گیرد و تا دو روز آینده تمام مواد انتخاباتی به دفتر مرکزی منتقل خواهد شد.
نور همچنان می گوید که برای نظم بهتر در روند، کمیسیون انتخابات کارت های نظارتی که از علامت نمبر امنیتی خاص برخوردار است را چاپ کرده و به گونه تدریجی در روزهای آینده به ناظرین توزیع خواهد کرد.

د بهرنیو چارو وزارت په ...

په لیکو کې د پاکستاني پوځیانو او مشاورینو شمېر ډېر شوی. بل مورد دا دی چې، د تخریبي فعالیتونو ترڅنګ د پاکستان پوځ په ورستیو څو ورځو کې د کونړ پر دانګام او شېګل ولسوالیو خپل بریدونه زیات کړي دي او په دې ورستیو کې د ننګرهار په حصارک ولسوالۍ کې د نږدې زرو وسله والو کسانو له خوا حمله، بله موضوع ده."
نوموړي وویل، د پاکستاني ځواکونو له خوا په افغانستان کې د بریدونو او د دې ښکاره برغل په اړه به افغان حکومت هم خپله پرېکړه وکړي.
شاغلي مستغني وویل، که چېرې د پاکستان له خوا دغه ډول لاس وهنې دوام وکړي؛ نو دوی به په نړیواله کچه دا مساله مطرح او خپلې ټولې اړیکې به له پاکستان سره پرې کړي او په نهایت کې به پوځي ځواب ته هم مجبور شي.
د افغانستان د ملي امنیت شورا د یکشنبې ورځې په غونډه کې همدارنګه وویل؛ چې د افغانستان له امنیتي ارګانونو سره د وسله والو مخالفینو په لیکو کې د پاکستاني پوځیانو او مشاورینو د حضور د زیاتېدو په اړه هم شواهد موجود دي.
په دې غونډه کې ویل شوي؛ چې د پاکستان پوځ د دواړو هېوادونو ترمنځ د شویو توافقاتو په خلاف په تېرو څو ورځو کې د کونړ پر دانګام او شېګل ولسوالیو خپلې راکټي حملې زیاتې کړې دي.
د بهرنیو چارو وزارت ویاند همداراز که د پاکستان هغه ادعا رد کړه چې؛ ویل کیږي، تروریستان د افغانستان له خاورې پاکستان ته اوړي، احمد شکیب مستغني په دې اړه وویل؛
"تر ډېره هڅه کیږي چې، د ډیورنډ کرښې له هغې غاړې چې کومې سرغړونې ترسره شوي په دې خبرو سره پرېږده وغوړوي؛ خو د افغانستان حکومت سره نوري لاري چارې هم په نظر کې نیول شوې دي، د دغو سرغړونو په دوام کې به تري استفاده وکړي."
افغان حکومت په کراتو د پاکستان د پوځ له خوا د بریدونو او سرغړنو په اړه خپل اعتراضونه دې هیواد ته سپارلي خو تراوسه کومه نتیجه یې نه ده ورکړي.
یو شمیر خبرونکي بیا وایي چې؛ افغان حکومت باید دا مساله د ملګرو ملتونو له سازمان سره مطرح کړي.

حمله به غزه به ناکامی ...

و لبنان تفاوتی نداشته است و حماس در جایگاهی قویتر از قبل ایستاده و هر گونه پیروزی رژیم صهیونیستی در این جنگ بعید به نظر میرسد.
در ادامه مطلب این روزنامه آمده است که اما تفاوتی که ایبار دارد این است که اسرائیلی ها دریافتند نه تنها برتری قدرت نظامی آنها باعث به دستیابی به پیروزیهای سیاسی نشد بلکه فلسطینیان و حماس در موضعی قویتر از قبل از حمله قرار گرفتند و رژیم صهیونیستی با این حمله باری دیگر مسئله فلسطین را که پس از انتفاضه آخر کمرنگ شده بود برای جامعه بین المللی زنده کرد.
ایندیپندنت در نهایت می نویسد علیرغم قدرت تخریبگر نیروی هوایی و زمینی رژیم صهیونیستی که در مقابله با رزمندگان مقاومت علم شده است بعید به نظر میرسد این رژیم بتواند آنها را از سر راه بردارد و یا اینکه هر گونه موفقیت نظامی داشته باشد.
رژیم صهیونیستی در طول ۲۸ روز مداوم غزه را از زمین و هوا و دریا مورد حمله قرار داد اما مقاومت فلسطین در مقابل این حملات ایستاد و با عملیاتها و موشکهای خود پاسخ آن را داد.
برخی آمارهای از کشته شدن بیش از ۶۰۰ نظامی اسرائیلی در این جنگ خبر میدهند و در حال حاضر انتقادهای بسیاری در سرزمینهای اشغالی متوجه مقامات این رژیم است و حتی برخی خواستار تشکیلات کمیته‌های تحقیق برای این مقامات با هدف بررسی دلایل دقیق شکست شده‌اند.

برتانیه وایي چې سرتیري ...

پر مخنګ کوي او سیمې لاندې کوي نو برتانیه به بیا هم خپل پوځونه افغانستان ته واستوي. د ده په وینا دا ډېره مهمه ده چې افغان وسله وال ځواکونه د القاعده د بېرته ستنېدو مخه ونیسي. خو که چېرې طالبان او القاعده بیا په افغانستان کې خوندي مرکزونه جوړوي نو بیا یې برتانیه هم پر وړاندې خپل تدابیر نیسي. جنرال وال خوشیني وښوده چې افغان وسله وال ځواکونه پر طالبانو برلاسي دي او د ټاکنو په دواړو بهیرونو کې د امنیت پر ساتلو بریالي شول.
اوسمهال ۴۱۰۰ تنه برتانوي په افغانستان کې دېره دي او د پلان له مخې به تر ۲۰۱۴ کال وروسته هم یو شمېر برتانوي پوځیان د سلاکارانو او پوځي روزونکو په توګه پاتې وي.

دقایقی پس از آغاز آتش...

شبه نظامیان گروه فلسطینی حماس است در نزدیکی خانه اش در شمال غزه کشته شد.
این در حالیست که اسرائیل برای تامین نیازمندی های بشری یک آتش بس هفت ساعته را در اکثریت نقاط نوار غزه، اعلان کرده بود.